# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| حقوق بشر | Human rights |
| --- | --- |


انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان - زیار شمارهٔ ۱۲

۱۱مارچ ۲۰۱۳

## یو میلیون زیارکښان د ماینونو په منځ کې ژوند کوي

## او هره میاشت ۴۵ تنه يې وژل کيږي

په افغانستان کې د دولت د آمارو مطابق یو میلیون تنه د ماینونو په ساحي کي ژوند کوي. که څه هم دولت نه وايي چي دا یو میلیون تنه چي د ماینونو په ساحي کي ژوند کوي څوک دي، یعني کومو طبقو پوري ارتباط لري، سرمایه داران او شتمن دي که بیوزله او زيارکښه. خو ښکاره خبره ده چي دا زموږ د وطن هغه بيوزله زيارکښه انسانان دي چي د ماينونو څخه په ډکو ساحو کې په بدبختی او بیوزلی کې ژوند کوي او همدا دی چي هره میاشت ۴۵ تنه يې د ماينونو د چاودني له کبله مري او په لسګونه نور يې ټپي کيږي.

څه باندي پنځه ويشت کاله کيږي چي د ماين پاکی موسسي په افغانستان کي په کار اخته دي او اوس ويل کيږي چي په ټول افغانستان کي به ماينونه تر ۲۰۲۵ کاله پوري پاک کړای شي، دا په دي مانا ده چي تر ۲۰۲۵کال پوري به هره مياشت ۴۵ زيارکښه انسانانا د ميرمنو او ماشومانو په ګډون بايد د ماين د چاودني له کبله ووژل شي.

ماين په افغانستان کي د بيوزلو زيارکښو انسانانو د دښمنانو لخوا د جنايتکارانه ګټو او جګړو لپاره کارول کيږي خو قربانيان يي زيارکښان دي. ستمګران او لوټماران د دي لپاره چي خپلو ګټو ته ورسيږي د هر ډول جنايت لپاره آماده دي او ورنه ډډه نکوي. يو له دي جنايتونو څخه د زيارکښانو د اوسيدلو په سيمو کي د ماينونو کرل دي.

په داسي حال کي چي هره مياشت ماين ۴۵ تنه زيارکښان وژني، خو لوټمارانو او چپاولګرانو ته ماين پاکي په ګټور تجارت بدل شوی او هر کال ميليونه ميليونه ډالره د ماين پاکه په نامه اخلي چي اخیستونکی يي په لويو شتمنو بدل شوي او بيلابيل شرکتونه چلوي او چرچی کوي. خارجيان او بهرنيان چي په خپله لوټماران او  د کورنی لوټمارانو اصلي ملګري دي او دواړه هم خارجي او هم داخلي لوټماران د دي هيڅ پروا نلري چي په کرل شويو ماينونو کي څوک وژل کيږي. خارجي او داخلي جګړه ماران ماينونه کري او اينجو لرونکي د همدې خارجي جګړه مارو په پيسو د ماين پاکی تجارت په لاره اچولی دی.

تر هغه چي  لوټماره جګړه روانه وي، د ماينونو کرل به هم دوام ولري. دا ماينونه د شتمنو او سرمايه دارانو په ماڼيو او قصرونو کي نه کرل کيږي، بلکي د د هقانو په ځمکو کي، په کليو او باندو او پټو کي ښخيږي، چيرې چي زيارکښان ناچاره دي کار وکړي. ماين د زيارکښانو دښمن دی، هغه دښمن چي د نورو اصلي دښمنانو لخوا ورته کرل کيږي.